مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ولي الله ملکزی
۲۰۲۳/۰۶/۱۷

# کوچني قطر او ستر شاهکارونه

د دوحي له ښار څخه:


ولي الله ملکزی

د قطر کوچني هیواد چې ځمکني مساحت او نفوس يې زموږ د ارزګان له ولايت څخه يو پوټي کم دی، په نړيوال اقتصادي او سياسي سټيج کې د سترو شهکارونو ټاټوبې او د سيالانو سيال دی. د قطر د ټول مساحت (۱۱۵۰۰ کيلومتر مربع) يواځې ۷ سلنه خاوره د کرهنې وړ او پاتې يې شګلني غونډۍ او تيت پرک سمندري ټاپو ګان دي. خپل نفوس يې ۳ لکه او ۳۲ زره تنه دی؛ خو دلته د ۹۴ هيوادونو مسلکي او کارګره طبقه اوسيږي چې ۲ مليونو او ۳ لکو ته رسي. د قطر بنسټګر، شيخ محمد بن ثاني نوميده په ۱۸۶۸م کې يې مختلفي قبيلي د خپل مشرتابه او يوې جنډې لاندې راټولې کړې؛ نوموړی د اوسني ۴۳ کلن امير، شيخ تميم بن حمد آل ثاني شيږم نيکه دی. قطر په ۱۹۷۱م کال کې له پيرنګيانو څخه خپلواکي ترلاسه کړه او له ۱۹۸۱م راهيسې د عربي خليج د شپږو هيوادونو د همکارۍ د شورى مؤسس غړی دی. البته په ۲۰۱۷م کال کې د ځينو عربي هيوادونو د سختې محاصرې/ پريکون سره مخ شو، خو ترکيه يې ترڅنګ ودريدله او د عسکري او تجارتي مرستو هوايي پل يې ورسره جوړ کړ.

د IMF د وروستي راپور له مخې، په داسې حال کې چې د افغانستان د يو کس کلني دخل / ګټه مازې ۴۲۶ ډالره ده، د يو امريکايي وګړي ۸۰ زره او د هر قطري دخل ۸۴ زره ډالره دی. تيره اونۍ د قطر د ماليې وزير، علي بن أحمد الكواري وويل چې د دې کال په څلورو لومړنيو مياشتو کې يې پنځه ملیارده ډالره اضافي/ مازاد ګټه ترلاسه کړيده. د Sputnik خبري آژانس وايي؛ په ۲۰۲۲م کې له روسيې او امريکا وروسته، په نړۍ کې د طبيعي غاز دريم ستر صادروونکي هيواد، قطر دی. ۹۷ سلنه خپل خلک يې ليک لوست کولاې شي؛ د هر قطري وګړي دارو درملنه د دولت په غاړه ده، اوبه او بريښنا هم وړيا ده.

قطر په ۱۹۹۳م کال کې په دوو کرايه شوو الوتکو باندې د Qatar Airways په نوم د هوايي ليکي شرکت پرانيست. نن د مسافرو لپاره ۲۵۵ موډرنې او د کارګو ۲۷ الوتکې لري؛ عمله يې ۴۵ زرو تنو ته رسي؛ د ۸۰ هيوادونو ۱۷۰ نړيوالو ميدانونو ته الوتنې کوي. دا پنځم کال دې چې د خونديتوب او ښو خدمتونو له امله د نړۍ د لومړي کتار په شرکتونو کې غوره جائزه ګټي. له سنګاپور وروسته، په دوحې کې د حَمَد نړيوال هوايي ډګر د نړۍ په کچه دوهم ښکلی او مجهز هوايي ډګر دی، تير کال ۴۰ مليونه مسافرو د دې ميدان له لارې تګ راتګ کړيدی.

د رسنيو په ډګر کې، د الجزيرې نړيوال ټلويزيوني چينل د عربي نړۍ په سر کې راځي؛ د بي بي سي او سي ان ان سره هم پله ګنل کيږي. الجزيرې د ۱۹۹۶م کال د نومبر په لومړۍ نيټې خپل رسنيز فعاليت پيل کړ؛ په عربي او انګليسي ژبو ۲۴ ساعته خپرونې کوي؛ ۴ زره تنه مسلکي او روزل شوې پرسونل لري. د دې مهمې خبري سرچينې يو مشر، أحمد سالم اليافعي وايي: په ۲۰۲۲م کال کې ۴۶۹ مليونه خلکو زموږ خبري او څيړنيز پروګرامونه ليدلي او دا شميره مخ په بره روانه ده. تير کال د دوحې ښار د فټبال د نړيوال سياليو کوربه وو چې له بابته يې يو مليون او دوه لکه خلکو له دې هيواد څخه ليدنه وکړه او د سياحت او توريزم په لمن پورې يې نوي پټري او ځونډي غوټه کړل. دغه لوبې چې هر څلور کاله په يو ډاډمن او ځواکمن هيواد کې کيږي، په اسلامي او عربي نړۍ کې هيڅکله هم نه وې ترسره شوې او دا وياړ د همدې کمکي وطن په برخه شو.

په منځني ختيځ کې د امريکا تر ټولو لويه پوځي اډه په قطر کې ده؛ العُدَيد نوميږي په ۱۹۹۶م کې جوړه شوې او په تيرو دوو کالو کې يې لويديځې نړۍ ته د لسګونو زرو افغانانو د سفر آسانتياوې برابرې کړيدي. د ۲۰۱۳م کال د جون په اتلسمې نيټې، د قطر او امريکا د دوه اړخيزې موافقې له مخې طالبانو په دوحې کې خپله لومړنۍ سياسي


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليږلو مخکې په ځير و لولئ

نمایندګي پرانیستله. اووه کاله وروسته یې له امریکا سره د سولې تړون لاسلیک کړ؛ ناټو لاړه، د ع او غ جمهوریت د تاریخ ارشیف ته وسپارل شو او طالبانو په لسو ورځو کې ټول وطن د خپل زمبر لاندې راوست. ولې ځینې ناکراره پوښتنې د هر هیواد وال په ذهن کې تیندکونه وهي او لاهم بې ځوابه پاتې دي.
د طالبانو د سیاسي قیادت ځینې مهم غړي چې په دې نهو کلونو کې دوحه کې اوسیږي؛ دلته یې څه ولیدل؟ د دې هیواد د آبادی او ښیرازی راز په څه که وینې؟ د نجونو تعلیم، ولسي مشروعیت او د ولس قناعت ورته څومره مهم دی؟ له بهرنی نړی سره اړیکي ساتل او پالل د دوئ په اجنډا کې څومره ارزښت لري؟ او ترټولو ژوره خبره دا چې طالبان په خپلې سر تاسري واکمنی کې د همدغو مثبتو تجربو پلې کولو ته څومره چمتو والی لري؟ دا سمه ده چې تاریخ تل فاتحینو لیکلی، خو باید دا هم په یاد ولرو چې وروستی فاتح پخپله وخت دی او له وخت هیڅ چا هم نه ده ګټلې!

[د لیکوال: آرشیف]

---------------------------------------------
په مننې سره، ما په دې لنډې څېړنې کې د قطر د الراية او الشرق له ورځپاڼو، الجزیرې د ټلویزیون، Sputnik خبري آژانس او دائرة المعارف څخه استفاده کړیده. که لوستونکي وخت او علاقه لري، کولای شي د ملکزي نوري لیکنې او څېړنې د هغه په فیسبوک او یوتیوب چینل کې ولولي او وګوري.
ادرس یې دا دی: Wali Malakzay


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ